د سلام نړیوال علمي ژورنال
Salam International Academic Journal
*Journal Homepage: https://journal.salam.edu.af*
لسم کال، شمیره ۱۷، پسرلی، کال ۱۴۰۴هـ ش

# په بهرنیو هېوادونو کې افغان کډوال او پر هېواد یې سیاسي او امنیتي اغېزې

ډاکتر مصباح الله عبدالباقي[1]، فتیح الله احدی[2] او عطاءالحق انس[3]

DOI: 10.64104/v10.Issue17.n6.2025

ISSN: 3078-9575 (Print)
ISSN: 3078-9583 (Online)
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۰۵/۰۸
تعداد صفحات: ۲۱
از صفحه ۹۲ تا ۱۱۲

## د څېړنې لنډیز

په بهرنیو هېوادونو کې زیات شمېر افغان کډوال ژوند کوي، چې د بېلابېلو لاملونو له امله کډوالۍ ته اړ شوي دي، خو بنسټیزه پوښتنه دا ده چې دا افغان کډوال چې په بهرنیو هېوادونو کې شتون لري په افغانستان باندې څه سیاسي او امنیتي اغېزې لري؟ همدا موضوع په دې څېړنه کې څېړل شوی ده، د څېړنې میتود تاریخي یا استردادي دی، دا د سیاسي او ټولنیزو موضوعاتو د څېړلو لپاره یو مهم او مناسب میتود دی، د څېړنې پایلې په ګوته کوي چې لکه څرنګه چې په تیر تاریخ کې په بهرنیو هېوادونو کې د افغانو کډوالو شتون پر هېواد زیاتې اغېزې درلودې همدا راز به یې په اوسنیو شرایطو کې هم ولري، له دې اغېزو څخه ډېرې مهمې اغېزې سیاسي او امنیتي اغېزې دي، دا اغېزې یو څه مثبت اړخونه هم لري خو منفي اړخونه یې غالب دي، په پای کې په دې ټینګار شوی چې د کډوالۍ دا پدیده د هېواد لپاره یوه منفي پدیده ده نو لازمه ده چې باید هواره کړی شي او د هوارولو تر ټولو بنسټیزه لار یې دا ده چې د کډوالۍ هر ډول لاملونه له منځه یوړل شي.

**بنسټیز کلمات: افغان کډوال، سیاسي اغېزې، امنیتي اغېزې، اجباري راستنول، سیاسي فعالیتونه، نظامي فعالیتونه.**

[1] د شرعیاتو پوهنځي استاد او د سلام پوهنتون رئیس، 0771694474، Misbah.abdulbaqi@gmail.com
[2] د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی، سلام پوهنتون، کابل. 5750 170 79 93+. Fetehullah.ahady2020@gmail.com
[3] د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی، سلام پوهنتون، کابل. 0784361717. Ataulaqanas333@gmail.com

استفاده از مقالات مجله با ذکر نام و مصدر مجاز می باشد
The use of the journal's articles is permitted provided that the author's name and the source are properly cited.